# د ۱۳۹۳ کال د ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو د ټاکنیزو سیالیو په بهیر کې د نوماندانو د مالي چارو د تنظیم لایحه

**مبنی:**

دا لایحه د ټاکنو قانون د (۷۹) مادې پر بنسټ د ټاکنو خپلواک کمیسیون (له دې وروسته کمیسیون) تصویب شو.

**موخه:**

لومړی ماده:

دا لایحه د ټاکنو قانون د (۴۵)مادې، (۲) فقرې، (۴) بند، د (۴۹)مادې د (۱)،(۱۹) او (۲۰) بندونو او د (۶۸) مادې د (۳) فقرې حکمونو ته په پام د ۱۳۹۳ کال د ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو د ټاکنیزو سیالیو په بهیر کې د نوماندانو مالي چارې تنظیموي.

**د نوماندانو د شتمنیو ثبت:**

دویمه ماده:

(۱)د ولسمشري نوماندان، د هغوی مرستیالان او د ولایتي شوراګانو نوماندان باید د نوماندې د غوښتنلیک فورمې د سپارلو پرمهال د خپلو منقولو او غیر منقولو شتمنیو معلومات د کمیسیون په ځانګړې فورمه کې ثبت او کمیسیون ته وسپاري، له دې پرته یې نوماندي نه منل کېږي.

(۲) دا معلومات په هېواد کې اوله هېواده بهر د منقولو او غیرمنقولو شتمنیو په اړه دي چې ارزښت یې سل زره (۱۰۰۰۰۰) افغانۍ او یا له دې څخه زیات وي.

**(۳)دکور هغه وسایل چې په عام ډول په ورځني ژوند کې تړې ګټه اخلي، لکه ګاڼې، فرش ، لوښي ،زینتي لوازم ، کتابونه تابلو ګانې ، مجسمې ، مالونه او دېته ورته نور هغه څه چې په نوماند پورې اړه لري، له کمیسیون سره نه ثبتېږي.**

**(۴)دنوماندانو دمنقولې او غېر منقولې شتمنۍ په اړه برابر شوي اسناد له کمېسیون سره محرم پاتې کېږي. دغه معلومات یوازې دټاکنیزو شکایتونوکمېسیون درسمي غوښتنې پرمهال هغوی ته ورکول کېږي.**

**د ټاکنیزو لګښتونو اندازه:**

**دریمه ماده:**

د ټاکنیزو سیالیو پرمهال د نوماندانو د مالي لګښتونو اندازه په دې ډول ده:
۱: د ولسمشري نوماندانو لپاره (۱۰۰۰۰۰۰۰) لس ملیونه افغانۍ
۲: د ولایتي شوراګانو د نوماندانو لپاره (۵۰۰۰۰۰) پنځه سوه زره افغانۍ

## د ټاکنیزو سیالیو لپاره مرستې:

### څلورمه ماده:

(۱)لاندیني کسان د نوماندانو ټاکنیزو سیالیو سره مرسته کولی شي:
الف: د افغانستان وګړي
ب: سیاسي ګوندونه او ټول داخلي غیر دولتي حکمي شخصیتونه
(۱) د یادو کسانو له لوري مالي مرستې د دې مادې په ( ۱)فقره کې نوماندانو ته د لاندینو محدودیتونو په شرط دي:
۱: د ولسمشري نوماندانو لپاره:
الف: حقیقي شخص تر پنځوس زره (۵۰۰۰۰) افغانیو پورې.
ب: حکمي شخص تر پنځه سوه زره (۵۰۰۰۰۰) افغانیو پورې.
۲: د ولایتي شوراګانو د نوماندانو لپاره:
۱ ــ حقیقي شخص تر شل زرو ( ۲۰۰۰۰) افغا نیو پورې.
۲ ــ حکمي شخص تر پنځوس زره( ۵۰۰۰۰) افغانیو پورې .
(۳)هیڅ دولتي اداره نه شي کولی د یو ځانګړي نوماند د ټاکنیزو سیالیو لپاره مرسته وکړي یا دولتي سرچیني د هغه په واک کې ورکړي، مګر دا چې د ټولو نوماندانو لپاره برابر شرایط او اسانتیاوې په پام کې نیول شوي وي.
(۴)هیڅوک له دولتي سرچینو څخه د ټاکنیزو سیالیو لپاره ګټه نه شي اخیستلی، مګر دا چې د افغانستان دولت د ټولو نوماندانوتر منځ د سرچینو انډول ساتلی وي.
(۵)په وړیا یا ارزانه بیه د ملکیت ورکول یا د خدماتو برابرول ، په بازار کې د هغه د ارزښت مطابق مالي مرسته ګڼل کېږي او په بازار کې د هغه د ارزښت پر بنسټ باید تمویل کوونکي ته رسید ورکړل شي.
(۶)د ټاکنیزو سیالیو لپاره پور اخیستل مالي مرسته شمېرل کېږي.
(۷)د دولتي امنیتي بنسټونو له لوري د یو نوماند امنیت ساتل مالي مرسته نه ګڼل کېږي.

## د مالي مرستو ثبتول:

### پنځمه ماده:

(۱)د ولسمشري نوماندان مکلف دی چې د هر ډول مالي مرستو د ترلاسه کولو په بدل کې چې شل زره ( ۲۰۰۰۰) افغانۍ او یا له دې څخه زیاته وي د مرستې ترلاسه کولو نېټه، اندازه او ارزښت یې، د مرسته کوونکي نوم چې د نوماند یا د هغه د مالي استازي لاسلیک ورسره وي، مرسته کوونکي ته ورکړي او یو نقل یې له ځان سره خوندی کړي. که د مالي مرستې ارزښت له شل زره ( ۲۰۰۰۰) افغانیو څخه لږ وي، نو د مرستې اندازه، د ترلاسه کولو نېټه، د مرسته کوونکي نوم، د پلار نوم او د

اړیکو شمېره د مرستو په کتاب کې ثبتېږي. دغه مهال مرسته ورکوونکي ته د رسید ورکول حتمي نه دی.

(۲)د ولایتي شورا نوماندان مکلف دي چې د هر ډول مالي مرستې د ترلاسه کولو په بدل کې چې لس زره (۱۰۰۰۰)افغانۍ او یا له دې څخه زیاته وي د مرستې د ترلاسه کولو نېټه، د مرستې اندازه یا ارزښت، د مرسته کوونکي نوم چې د نوماند لاسلیک ورسره وي، مرسته کوونکي ته ورکړي او یو نقل یې له ځان سره خوندي کړي.
(۳)پور باید د پور ورکوونکي د ځانګړنو یادولو ته په پام ، د پور اندازه او شرایط ثبت شي.

## د ټاکنیزو سیالیو د لګښت ثبتول:

### شپږمه ماده:

(۱)د ولسمشري نوماندان باید د خپلو ټاکنیزو سیالیو لګښت په لاندې ډول تنظیم کړي:
الف: هغه لګښتونه چې اندازه یې شل زره (۲۰۰۰۰)افغانۍ یا له دې څخه زیاته وي، د ټاکنو کمیسیون په برابر شوي فورم کې دې ثبت کړي.
ب: نوماندان باید د هغو لګښتونو په بدل کې چې په (۱) فقره کې یې وړاندوینه شوې، رسید ترلاسه کړي. یاد رسید باید د نوماند ځانګړنې، د کالیو او یا خدماتو ډول او ارزښت، د برابرولو نېټه او د برابرونکي ځانګړنې ولري.
ج: هغه مالي لګښت چې له شل زره (۲۰۰۰۰) افغانیو څخه لږ دی، ورکړل شوی رقم، د ورکولو نېټه، د ترلاسه کوونکي له ځانګړنو سره ، د لګښت اندازه د لګښتونو د ثبت په کتاب کې ولیکي او د رسید ترلاسه کول یا هغه جزیات چې د دې فقرې په (ب) جز کې یې وړاندوینه شوې حتمي ګڼل کېږي.
(۲)د ولایتي شورا نوماندان باید د لګښت راپور چې ارزښت یې لس زره (۱۰۰۰۰) افغانۍ یا له دې څخه زیات وي ثبت کړي او د ټاکنو کمیسیون په برابر شوي فورم کې دې کمیسیون ته راپور ورکړي.

## بانکی حساب:

### اومه ماده:

(۱)د ولسمشري نوماندان د ټاکنیزو سیالیو د مالي چارو د تنظیم په موخه په بانک کې مشخص بانکي حساب پرانیزي. یاد شوی بانکي حساب باید د نوماندانو له نورو ټولو حسابونو څخه جلا وي.

(۲)بانکي حساب باید د ټاکنیزو سیالیو له پیل څخه دمخه پرانیستل شي او نوماند باید په ټاکلې نېټه په هغه اړه کمیسیون ته معلومات ورکړي.

(۳)نغدې مالي مرستې باید د نوماند په بانکي حساب کې شاملې شي او مالي لګښت هم د نوماند له بانکي حساب څخه وشي.

## مالي استازی:

### اتمه ماده:

(۱)د ولسمشري نوماندان د ټاکنیزو سیالیو له پیل څخه دمخه چې کمیسیون یې ټاکي، یو ارتباطي کس د خپلو ټاکنیزو سیالیو د مالي چارو د تنظیم په موخه رسماً کمیسیون ته ور پېژني.

(۲)نوماندان باید په اړونده فورمه کې، کمیسیون ته د مالي استازي نوم او د اړیکې د جزیاتو په هکله معلومات ورکړي.

(۳)د مالي استازي د بدلولو په صورت کې ، باید نوماند ژر کمیسیون خبر کړي، د نوي استازي نوم او د تماس جزیات هم کمیسیون ته ورکړي.

## د مرستو او مالي لګښتونو راپور:

### نهمه ماده:

(۱)د ولسمشري او ولایتي شوراګانو هر نوماند باید د ترلاسه شویو مرستواو مالي لګښتونو دقیق راپور ټاکلي وخت ته په پام د کمیسیون په ځانګړو فورمو کې کمیسیون ته ورکړي.

۱: د راپور فورمې لاندې ځانګړنې لري:

الف: د مرستې ترلاسه کولو فورمې:

۱: د نوماند ځانګړنې.

۲: د مرسته کوونکي ځانګړنې.

۳: د مرستې ډول.

۴: د مرستې ترلاسه کولو نېټه.

۵: د ترلاسه شوې مرستې اندازه یا ارزښت.

ب: د مالي لګښتونو فورمه:

۱: د نوماند ځانګړنې.

۲: د ترلاسه کوونکي ځانګړنې.

۳: د لګښت په هکله توضیحات.

۴: د لګښت نېټه

۵: تاید شوې اندازه.

(۲)د ولسمشری له نوماند سره له شل زره ( ۲۰۰۰۰ ) افغانیو څخه د لوړ مالي مرستې په صورت کې، د مرستو مجموعي راپور دې د مرستو د ثبت کتاب له کاپي سره یوځای له شل زره ( ۲۰۰۰۰ )څخه د لوړ افغانیو برابر شي.

(۳)د ولسمشري نوماند له شل زره ( ۲۰۰۰۰ ) څخه د لوړ افغانیو مالي لګښت په صورت کې، د لګښتونو مجموعي راپور دې د لګښت د ثبت کتاب له کاپي سره یو ځای له شل زره (۲۰۰۰۰) څخه د لوړ افغانیو برابر شي.

(۴)که د نوماند د لګښت اندازه د هغه د ثبت شوي شتمني، ترلاسه شویو مرستو او پور څخه زیاته وي، نو دغه مهال منطقي دلایل برابرول .
(۵)د ټاکنیزو سیالیو د بانکي حساب راپور ، د ولسمشري نوماندانو د مالي چارو د راپور سره یو ځای کمیسیون ته برابرول حتمي دي.

<u>د اسنادو ساتل:</u>

**لسمه ماده:**

نوماندان مکلف دي چې د ټاکنیزو سیالیو د مالي چارو اړوند اسناد له ټاکنو څخه ۱۲ میاشتې وروسته وساتي.

<u>د معلوماتو (ډیټابیس)بانک:</u>

**یولسمه ماده:**

کمیسیون د نوماندانود ټاکنیزو سیالیو د مالي چارو راپور د پروسیس کولو او راپورونو ته د عام لاسرسي په موخه، د معلوماتو(ډیټابیس) بانک رامنځته کوي.

<u>د راپورونو خپرول:</u>

**دولسمه ماده:**

(۱)کمیسیون برابر شوي راپورونه (ترلاسه شوې مرستې او مالی لګښتونه ) له تدقیق وروسته د ټولو د خبرولو په موخه خپروي.
(۲)کمیسیون د ولسمشري نوماندانو له شل زره ( ۲۰۰۰۰) افغانیو څخه د لړ ترلاسه شویو مرستو او مالي لګښتونو مجموعي انداز ه هم خپروي.

<u>سرغړونه:</u>

**دیارلسمه ماده:**

د دې لایحې د حکمونو نه مراعتول سرغړونه ګڼل کېږي. کمیسیون د نوملړ له خپرولو وروسته سرغړونکي نوماندان د ټاکنیزو شکایتونو کمیسون ته ورپېژني.

<u>انفاذ:</u>

**څوارلسمه ماده:**

دا لایحه له تصویب وروسته نافذه او خپرېږي.